استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

داکتر زمان ستانیزی

۰٦ اکتوبر، ۲۰۲٤

# آزادي يعنی څه؟



## سیاسی آزادی ته کره کتنه:

آزادئ د انسان ذاتي او طبيعي حق دی چې د انسان کرامت په کې تعريف شوی. د انسان د «اشرف مخلوقات» ځانګړيتوب يعنی تفکر، تدبُر، او تعقل له آزادئ پرته ممکن ندی. د «آزاد تفکر» په عبارت کې د آزاد کلمه زايده او تکرار مکرر ده، ځکه چې د تفکر په کلمه کې د آزادئ معنا نغښتي ده. تاسي کولی شی يو څوک جسماً په زندان کې واچوی، خو نشی کولی فکر ته يي زولني ور واچوئ.

فکر ته د زولنو اچول ستاسي خپل کار دی نه د بل چا، واياست څنګه؟

کله چې تاسې د آزاد تفکر فرصت د خرافي باورونو په لومو کې را ايسار کړی او د عقل، منطق، حکمت او تدبير لارې پرې وتړی. هغه وخت حق ويلو او حقيقت پالنې ته زولنې اچوی چې د نعمت کفران دی.

يو انسان بايد پر خپله آزادی وویاړي. يو افغان بايد پر خپل تل آزاد افغانستان وویاړي. افغانستان تل يو آزاد هيواد و او تل آزاد پاتې شوی. دا خبره د ملت پالنې د احساساتو له مخې نده، بلکه د تاريخ په شهادت د سياسي علومو د منل شويو اصولو پر بنا ولاړه ده او د افغانستان د هغه لوړ امتياز بيان دی چې افتخار يې د نړی د ډېرو لږو هيوادنو نصيب شوی.

د سیاست په علم کې یو هیواد هغه وخت آزاد ګڼل کېږي چې عمدتاً څلور معیارونه پوره کړي: ولس یې آزاد وي، حکومت یې آزاد وي، جغرافیایي قلمرو یې آزاد وي، او آزاد منل شوی او پېژندل شوی وي.

افغانستان د تأسیس له ورځې تر ننه پورې دغه معیارونه تر ډېره حده پوره ساتلي دي:

۱ -د افغانستان په خاوره تیری، یرغل او تهاجم شوی؛ قلمرو یې اشغال شوی، د خپلې خاورې یوه یا بله برخه یې له لاسه ورکړې، خو د افغانستان جغرافیایي تمامیت هیڅ وخت د بل هیواد مستعمره، مستملکه، یا محروسه نده ګڼل شوې. په تېرو درې پېړیو کې هیڅ کتبي سند یا نقشه نشته چې دا خبره نقض کړي.

۲ -افغان ولس د اروپایي مستعمراتو د ولسونو په شان خپلې مدني او فردي آزادیګانې له لاسه ندی ورکړی او د پردیو غلامي او مریتوب ته یې سر نه دی ټیټ کړی.

۳ -افغانستان همیشه خپل پاچاهان او واکمنان درلودل. حتی هغو «کم واکه» او «بیواکه» واکمنانو چې د سیاسي مضیقو په وخت کې یې معاهدې أمضا کړي د افغانستان د پاچا یا امیر تر القابو لاندې یې أمضا کړي دي، نه د یو بهرني نایب السلطنه یا وایسرا تر سیورې لاندې .

۴ -افغانستان همیشه د یو آزاد او مستقل هیواد په صفت پېژندل شوی، حتی په اوسنیو شرایطو کی هم افغانستان ټوله نړۍ په رسمیت پېژني، خو د طالبانو حاکمیت د افغانستان د یو مشروع حکومت په صفت څوک په رسمیت نه پېژني.

د پورتنیو دلایلو له مخې باید افغانستان د یو تل آزاده هیواد په صفت ومنل شي او ددغې آزادۍ دېر درناوۍ وشي.

دغه توپیر ته باید په زغرده وکتل شي. مونږ په آزادۍ ویاړو او باید پرې وویاړو، خو دغې آزادۍ ته باید د یو متعالي لوړ امتیاز په سترګه وګورو، نه د یو غلط مصطلح استثنا په توګه .

تاریخ سره باید د تجزیې او تحلیل او منطقي استدلال له مخې تعامل وکړو، نه د احساساتي شعارونو له مخې. د آزادۍ د بیرته اخیستلو یا د «استرداد استقلال» عبارات د یو همیشه آزاد هیواد د آزادۍ له ادعا سره د لاندې دلایلو له مخې په تناقض کې دی:

۱ -یو څوک (یا هیواد) هغه وخت یو شی د استرداد په معنی بیرته لاس ته راوړي چې له لاسه یې ورکړی وي. که د افغان او انګلیس په دریمه جګړه کې افغانانو آزادۍ بیرته تر لاسه کړې وي، نو په کوم جنګ کې یې آزادي له لاسه ورکړې وه؟

۲ -که افغانانو د وړو شخړو برسېره د افغان او انګلیس په درې لویو جګړو کې آنګریزانو ته ماته ورکړې، نو بیا ثابته ده چې افغانستان همیشه آزاد و .

۳ -که په مخکینیو جګړو یا معاهدو کې د هیواد ځینې جغرافیایي برخې له لاسه تللې وی، نو د افغان او انګلیس د دریم جنګ په پای کې کومې سیمې آزادې او د افغانستان په جغرافیایي قلمرو علاوه شوې دي یا به بریتانوي هند سره زمونږ پوله د اټک او آباسین څنډو ته ولېږدول شوه؟

د تاریخ د تحلیل په برخه کې باید ووایو چې د «ناتو»، «وارسا» او «آسیان» په شان سیاسي، نظامي یا اقتصادي تړونونو کې غړیتوب د یو هیواد د آزادۍ پر نقض دلالت نکوي. د استعمار په دوره کې د همدغه شان تړونونو معادل د یو یا بل استعماري زبرځواک له سیمه ایزو نظامی پیمانونو سره جوړښت یا سازش یو منل شوی تعامل و .

په هغو شرایطو کې افغانستان باید یا د روسي مقیم سفارت په کابل کې منلی وئ او د انګلیس سفارت ته یې اجازه نه وای ورکړې، یا برعکس. اما په هر صورت کې په دی معنا نه چې د افغانستان آزادي دې تر سؤال لاندې راولي. امیر عبدالرحمن خان د مالي او نظامي مرستو په مقابل کې په کابل کې د انګلیس سفارت ومانه، څو په کابل کې د روسانو سفارت ته اجازه ورنکړي. امیر امان الله خان دغه تړون تمدید نکړ، خپله بې طرفي یې اعلان کړه او د روسانو سفارت ته یې هم په کابل کې اجازه ورکړه. انګریزانو مقابلتاً خپلې مالي مرستې بندې کړې.

ویاړلی او مترقي هیوادپال ټولواک امیر امان الله خان یو سل او پنځه کاله دمخه افغانستان د شوروي روسي او بریتانیوي هند د خپل مینځي رقابتونو له ډګر نه آزاد کړ.

د آزادۍ کلمه په همدې مفهوم د امیر امان الله خان د ۱۹۱۹ ز. کال د اپریل د۱۳نیټې په وینا کې په صراحت سره د «غیروابسته» اصطلاح له مخې تصریح شوې، «من خود و کشور خود را از لحاظ امور داخلي و خارجي به صورت کلی آزاد، مستقل و غیر وابسته اعلام میدارم.»

روښانه ده چې افغانستان په داخلي چارو کې آزاد و. حتی په خارجي چارو کې هم د هند د وایسرا هاردینګ او د بریتانیې د پاچا جورج له احتجاجونو سره سره امیرحبیب الله خان د عثماني خلافت سفیر کاظم بای، د هند د آزادي غوښتونکو نماینده مولوی برکت الله او د آلمان سفیر نیدر مایر په ۱۹۱۵ او ۱۹۱۶کلونو کې د دوامداره مذاکراتو لپاره په خپل دربار کې ومنل. کابل ته ددغو سفارتونو راتګ او د امیرحبیب الله خان دغه مستقله موضعګیري د افغانستان په بشپړه آزادۍ دلالت کوي.

نو ځکه، له افغانستان سره د انګریزانو د تړون یوازینی هدف هند ته نږدې کابل کې د روسانو د سفارت د موجودیت مخنیوی و، نه د افغانستان د کورنیو یا بهرنیو چارو او اړیکو متأثر کول. امیر امان الله خان د دغه تړون د له مینځه وړلو هدف د خپلې بیانې په «غیر وابسته» عبارت او متعاقب عمل کې واضح کړ، چې هم یې د روسي سفارت ته اجازه وکړه، هم د انګیزانو سفارت

په خپل حال پاتې شو او هم يې د ځينو نورو هيوادونو سفارتونه له «سفري سفارت» نه «مقيم سفارت» ته لوړ کړل.

د تعامل له مخې هغه هيوادونه د آزادۍ تر لاسه کول تجليل کوي چې غصب شوي آزادي يې د مبارزو او جګړو له لارې بيرته ترلاسه کړې وي. مثلاً د امريکا متحده ايالتونه، الجزاير، هند او نور.

افغان ولس له روسانو، پارسيانو او انګريزانو سره ددې لپاره جګړې کړي او بريالی ورنه راوتلی چې خپله آزادي وساتي.

په هغو هيوادونو کې چې خپله آزادي يې هيڅ وخت له لاسه نه وي ورکړې، معمولاً د آزادۍ ورځ نه تجليل کيږي، ځکه د هغه هيواد د ماقبل دورې په اسارت دلالت کوي. ښه به دا وي چې د افغانستان د هميشه آزاد هيواد د غوره او ممتاز حيثيت درناوي وکړو او يوه ملي ورځ تجليل کړو. که هغه ورځ د آزادۍ د ورځې په نامه تجليل کيږی، نو د «بيرته اخيستلو» يا «استرداد» عبارات دې ورنه حذف شي، ځکه افغانستان په خپل ټول تاريخ کې آزاد و او آزاد به وي.

د ټل آزاد افغانستان د آزادۍ ورځ دې مبارکه و

پای